## زه که ته

په لعن و سب دې کــه رابــولــم پــه فــدا کــه پــه ځـــار
یــا بن الغـــریبـــه نـــه خپلیـــزې نـــه سمیـــزې نــه یـــار

تـــه ســـراپـــا زمـــا پـــه ذهـــن و فـــؤاد لـــهـــو و لعب
زه همـــه دم د بـــل سهـــر د بـــل سبـــا انتـــظـــار

دې اعتـــدال دې تحمـــل مـــې لا حـــدود منـــلي
لـــه حــده پــار د زرگـــر ســـل د آهنگـــر یـــو گـــوزار

د اسمـــان ســـر شـــه یـــو ویښتـــه ســـره دې نـــه سمـــوم
زه مستقـــل ستـــا پـــه ســـر ســـر، د ســـر په سر دې بادار

د ژونـــدانـــه لـــه تـــاب و خمـــه ښـــه ستـــومـــانـــه ومـــه
ستـــا سیـــاست نـــوي غمـــونـــه نـــوی خـــم نـــوې لار

اعـــلام پـــه یـــو دوه کې حیـــران لـــه تصـــامیمـــو وتـــی
چې څوک مومن دي څوک مسلم څوک خوارج څـوک کفار

# ترس

زمـــا تـــرس طبيعي نــــه دی
لــــه ازلـــــه مــــدافــــع وم
چې د چا مې زړه کې ترس دی
هغـــه مـــا نـــه قـــوي نه دی
خـــو وړوکی چې رالـــوی شـوم
لــــه ابـــاو لــــه اجـــدادو
بس همـــدا راتـــه زوتيـــږي
چې داريـــږه دار ضـــرور دی
دار احتيــــاط دی دار بقـــا ده
تـــه کــه پـــايې پـــه دار پـــايې
زه بـــا گفتــــه بـــا ادبــــه
ټـــول مې ومنـــل دارن شــوم
کلـــــه تـــرس د درد و مـــرگـــه
کلــــــه دار د غـــريبـــۍ نـــه
کلـــــه حفـــظ د آب و رو شــي
کلـــه کلـــه لــــه شيطـــانـــه
د دې ټـــــولـــــو يــــو خبـــــره
اوس لــــه داره هـــم داريــــــزم
دا لا څنگـــــه زنــــدگي شـــــوه
دا زه څنگــــه تربيــــه شــــوم
کـــه دا ترس مې فنــا نــه کـړو
نـــو اعـــــلام پکـــې فنـــا دی

